**UNTOLD**

## د پرنده شبکې لپاره د پروژې همغږي کوونکې د دندې فرصت (په دري، پښتو او انګلیسي ژبو)

موږ خوښ یو چې دپرنده  پروژې همغږي کوونکي (کواردیناتور) لپاره زموږ د کوچني، تخلیقي ټیم سره یوکاری فرصت اعلانوو. دا دنده په دري، پښتو او انګلیسي ژبو ده.

دا د یو کلن ثابتي مودې آزاد (فری لانس) قرارداد دی، چې په اونی کې درې ورځې د کال ۴۶ اونیو لپاره کار کوي، د قرارداد د نوي کولو احتمال شته.

د دندی معاش: د ۴۶ اونیو قرارداد لپاره  ۲۴۰۰۰ – ۳۱۰۰۰ کلنی معاش چې د تجربې پورې اړه لري.

د انګلستان څخه بهر غوښتنلیکونه به هم په پام کې ونیول شي، په دې شرط چې تاسو د انګلستان راجستر شوي ټولنیز ګټو شرکت لپاره د آزاد کار کولو اجازه ولرئ.

(د شرکت راجستر شوی رسمی شمیره ۱۲۶۵۴۱۷۳)

### د انتولد په هکله

انتولد یا ناویل شوې کېسې په ۲۰۲۰  کال کې تاسیس شوی دي، دا اداره د هغو لیکوالانو سره یوځای کار کوي چې د ټولنې یا جګړو او کړکیچونو له امله ورته د لیکلو او یا د لیکوالی د ودی ورکولو سهولتونه برابر نه وي.

د نړۍ په ډېرو برخو کې، تخلیقي لیکوالان داسې یو کلتوري سهولت ته لاس رسی نلري چې د دوی د لیکوالی پراختیا اود چاپ یا نشر لپاره اړین وي.

د پرنده شبکه د لیکوالی د پراختیا پروژه په افغانستان او په بهر کې د افغانو ښځینه لیکوالانو یوه مجازی شبکه ده.

انتولد د پرنده شبکې دد لیکوالی د ودی ورکولو په برخه کې د افغانو ښځینه لیکوالانو ملاتړ کوي ترڅو دوی خپل تخلیقی کار ته وده ورکړي؛ خپلې کیسې په خپلو ژبو کې له پراخو ټولنو سره شریکې کړي او په نړیوالو ادبي خپرونو کې د ژباړې په برخه کې نړیوالو لوستونکو ته خپلې لیکنې وړاندې کړی.

### زموږ لیدلوری

زموږ لید یوه داسې نړۍ ده چې لیکوالان وکولای شي، پرته له دې چې د دوی په کوم وضعیت کې دي ، وکولای شي خپلې کیسې ووایې او د ټولنو دننه او نړیوالو سره یې شریکې کړي، او ددوې کیسې داسې ځواک وې چې ټولنه کې بدلون راولي او بشري حقونه غږ پورته کړي.

### زموږ ماموریت

زموږ ماموریت دا دی چې د ټولنیزو، جغرافیایي، یا اقتصادي انزوا څخه اغیزمنو ټولنو لیکوالانو چې د جګړو او په سیمه کې د شخړو له امله یې لیکوالي اغیزمنه شوی وې کار وپیژنو، ددوی لیکوالی ته وده او پراختیا ورکړو.

### د دندې په اړه

د پروژې همغږي کوونکی یا کواردیناتور  - پرنده د شبکې لپاره

موږ د پرنده د شبکې لپاره د دري، پښتو او انګلیسي ژبو په اوږدو کې د کار کولو لپاره د نیم وخت یا پارټ ټایم د پروژې همغږي کوونکي یا کواردیناتور استخدام وو. په انګلیسي ژبه او یا هم دري یا پښتو کې لیک لوست او خبرې ددی دندی لپاره اړینه ده؛ په ټولو دریو ژبو کې بلدتیا ددی دندی لپار خورا غوره دي.

**راپور ورکول:** د دندی مسول به اجرایوي رییس ته راپور ورکوي

**مهم مسؤلیتونه**

د پروژې همغږي: د پرنده پروژې د رسولو او سرته رسولو ملاتړ

- په فعاله او خوندي توګه په مجازی ډول د ایدیت د پروسی مخ ته وړل او د اداری پروسې همغږي کول ترڅو پس له ایدیت نه ژباړه کې د لوړ کیفیت لنډی کیسې یا واقعی لنډی کیسې وژباړل شي.
- د اړیکو یو کلیدی کس اوسی او د پرنده د نړیوالو ایدیترانو، ادبي ژباړونکو او لیکوالانو لپاره په بیلابیلو ملکو او وختونوکې پام کې ونیسی.
- د پروژې لپاره د څارني او ارزوني د پروسې بشپړه همغږي وکړي.
- د پرنده لیکوالانو لپاره په فعاله توګه د پرنده میاشتنی خبر پاڼه په انګلیسي دري او پښتو ژبووژباړی. د خبر پاڼي لپاره د کتابونو اوکیسوخپرولو د صنعت او ادبی فرصتونو څیړنه او پیژندنه وکړی.
- د پرنده میاشتنی کتاب کلوب په دري او پښتو ژبو مخته وړل او همغږي کول، او د کلوب کره کتنه په پښتو او دري ژبو. همدارنګه د خوندي پیغام رسولو ایپ له لارې د بیلابیلو ملکونو د وخت سمون او د کتاب کلوب فیدبک ټول د بیلا بیلو ملکو وخت زون کې.
- کله چې اړتیا وي د پرنده د میلمه د غونډو همغږي او تنظیم وکړئ.

**د نورو ادبی سهولتنو سره د شراکت فرصتونه:**

- پرنده شبکې ته وده ورکولو لپاره د نویو فرصتونو پیژندل او جوړول
- د تمویل او بودیجی وړاندیزونو ملاتړ لپاره اړوند معلومات چمتو کول، او د پرنده شبکې تمویل کونکو ته انتولد لخوا د ملاتړ راپور لپاره معلومات.

**د شخص مشخصات:**

**ضروری وړتیا:**

- په انګلیسي لیکل او لوست ، او په دري یا پښتو کې هم لیک او لوست پوهیدل
- د پروژې د بریالي مدیریت او/ یا همغږي د تجربې شواهد
- کاری باریکیو او تفصیل ته ښه پاملرنه او د اړیکو جوړولو او ساتلو قوي مهارتونه
- د لیکوالی د پراختیا او اداری پروسې سره علاقه، او پوهه
- د مایکروسافټ او پیغام رسولو ایپس او ای تی پوهې قوي مهارتونه
- د حساب کتاب وړتیا

- په یوه کوچنۍ ټیم کې په آرامۍ سره کار کول لیکوالانو پوښتنو ته ځواب ورکول
- د انټولډ ماموریت او ارزښتونو ته ژمنتیا

**مطلوبه وړتیا :**

- په دري او پښتو ژبو لیک لوست
- د افغان کلتوري، ادبي او بهرنۍ شرایطو څرګنده پوهه، چې د ژوند، چې د مسلکي یا رضاکارانه تجربو له لارې ترلاسه شوي وې.
- نړیوال ادبیاتو سره علاقه
-

**د دندی ځای:** دا یو هایبرډ رول دی. که تاسو په انګلستان کې میشت یاست، نو تاسو به د لندن په غونډو کې ګډون وکړئ.

د کار درخواست لپاره مهرباني وکړئ تاسو خپله سی وي او یو صفحه بیان چې ولې او څنګه تاسو د دی دندی لپاره مناسب کس یاست لاندی بریښنا لیک (مارک عثمان-بارټر) ته د ۲۰۲۶ کال د سپتمبر ۱۷ نیټیې د غرمی تر ۱۲ بجو پورې راولیږئ.

mark@untold-narratives.org
admin@untold-narratioves.org

ددی دندی لپاره به مرکې به د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر د ۱۲ څخه پیل په یوه اونۍ کې ترسره شي.

که تاسو غواړئ د دې دندی په اړه د نورومالومات ترلاسه کړئ نو د دې بریښنالیک له لارې مونږ سره د خبرو اترو غوښتنه وکړئ.

mark@untold-narratives.org
admin@untold-narratioves.org